شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**له مرگ څخه وروسته پښېماني**

له حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دئ، چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: نسته داسي څوک، چي مړ سي او پښېمانه نه وي. پوښتنه وسوه؟ پښېمانتيا به ئې څه وي؟ اې د الله رسوله! هغه مبارك وفرمايل: كه چيرته ئې نېكي كړې وي پښېمانه به وي، چي ما ډېره نېكي كړې واى او كه چيرته گنهگار وي پښېمانه به وي، چي كاشكي ما گناه نه واى كړې او توبه مي ايستلې واى.
مشكوة المصابيح جلد ٢ ص ٤٨٤.

**پشيمانى بعد از مرگ**

از حضرت ابوهريرة رضى الله تعالى عنه روايت شده كه رسول الله ﷺ فرمود: كسى را نخواهد يابيد كه بعد از مرگ پشيمان نباشد. سوال شد؛ اى رسول خدا! پشيمانى آن چه باشد؟ وى فرمود؛ اگر نيكى كرده باشد پشيمان ميباشد كه بايد زياد نيكى مى كردم و اگر گناه كرده باشد پشيمان مى باشد كه بايد گناه نمى كردم و توبه مى كردم. مشكوة المصابيح جلد ٢ ص ٤٨٤.

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


شنبه| د ربيع الاول ٤-١٤٤٦ال س/ د وږي ١٧-١٤٠٣ال ل/ د سيپتمبر ٧-٢٠٢٤ز/څلورم كال / ١١٤ گڼه/ ٤ مخيزه



## سر مقاله

### خوندي فضايي حريم او د عوايدو زياتېدل

هوايي حريم زموږ د هيواد د كنټرول او د پرديو له فضايي گواښونو څخه د ساتني په موخه موږ ته د ډال حيثيت لري او افغانان د هيواد خاوره او فضا هيچا ته د ناوړه گټي اخيستني لپاره نه وركوي او نه هم چا ته دا حق وركوي، چي له اجازې پرته دننه راسي. له سياسي اړخه راپدېخوا زموږ د پاكي، پراخي او امن فضا يوه ستره گټه داده، چي په ورځني ډول سلگونه بهرنۍ الوتني له دې حريم څخه ترسره كېږي او د افغانستان فضا منځنۍ، سويلي او لوېدځي اسيا ته د هوايي كرښو د رالنډولو په موخه كارول كېږي. په منځني ختيځ كي د ځينو هيوادونو د خپل منځي شخړو د راپېښېدو له كبله د نړۍ څو معتبرو او سترو هوايي شركتونو له څه نيږدې مودې راهيسي د افغانستان په فضا د الوتنو د حق ترلاسه كولو وروسته او په گاونډيو هيوادونو كي د هوايي حريم د نا امنۍ له كبله زموږ د هيواد فضا ته مخه كړې ده. پر افغانستان باندي د بهرنيو ټرانزيټي، مسافر وړونكو او ټرانسپورټي الوتكو تگ راتگ هم نړۍ ته د امن زېرى وركوي او له بل پلوه د هوا له لاري د عوايدو په راټولېدو او زياتېدو كي هم د افغانستان لپاره خوار مهم رول لري. دغه الوتني د نړۍ د معتبرو شركتونو؛ لكه؛ «برټيش اېروېز، لوفټ هانزا، اېر استانا، اېر اينډيا، امريكن اېرلاينز، بنگلدېش اېرلاين او سينگاپور اېرلاينز شركتونو» له لوري ترسره كېږي. په دغو معتبرو شركتونو كي يو شمېر شركتونو د تېري اداري له سقوط وروسته پر ذكر سوي مسير خپلي الوتني ځنډولي وې، چي اوس مهال په منځنۍ اسيا كي د څه ستونزو له كبله ئې يو ځل بېرته د افغانستان فضا ته مخه كړې او له دغي لاري سوېلي او ختيځي اسيا ته په لنډه او اسانه تگ راتگ كوي. د پورتنيو ځينو ټكو له يادولو څخه زموږ موخه يوازې د ملي عوايدو زياتېدل دي، چي اوسمهال د هوا له لاري ترلاسه كيږي او همداراز د خپلي ملي بوديجې بډايه كول دي، چي هيڅ راز بهرنۍ مرسته نه لري او يوازې له كورنيو عوايدو بشپړېږي. د اسلامي نظام په راتگ سره، چي پر ملي بوديجې بهرنۍ مرستي په ټپه درېدلي او يوازې د افغانانو په ملاتړ تمويلېږي، اسلامي امارت هڅه كوي، چي پانگوالو، سوداگرو او صنعتكارانو ته د بې ساري اسانتياوو په رامنځته كولو سره، نوري عوايدي لاري چاري ولټوي او د ځان بسياينې لپاره په يو لړ نويو عوايدي موخو تمركز وكړي. د دې ترڅنگ د هوايي حريم د لا پياوړي كولو او پرمختللو وسايلو په چمتو كولو سره د نړۍ نور هوايي شركتونو ته هم پر افغانستان د تگ راتگ زمينه برابره كړي. د پورتنيو عوايدي لارو ترڅنگ په نږدې راتلونكي كي د افغانستان دننه د ټاپي پروژې د پيل امكان هم سته، چي دغه ستره پروژه هم د نورو گټو ترڅنگ د عوايدو په زياتېدلو او د ملي بوديجې په پياوړي كولو كي خورا ارزښت لري. د معلوماتو له مخي د ټاپي ستري پروژې له بشپړېدو سره به ډېر عوايد راځي او د دې ترڅنگ به په زرگونو افغانانو ته د كار زمينه برابره سي. څومره، چي زموږ ملي عوايد زياتېږي، موږ ځان بسياينې ته نيږدې كېږو، د پرديو له مرستو مو لاس نور هم را لنډېږي، ملي بوديجه مو په خپلو ملي عوايدو غني كېږي، ځوانانو ته د كار زمينه برابرېږي، بيا رغونه پراخېږي او د يوه با ثباته او د اقتصاد له پلوه پر پښو ولاړ افغانستان پر لوري گامونه اخلو.

درنښت

اداره

# د ماليې وزير په افغانستان كي د ملگرو ملتونو د پراختيايي پروگرام له رئيس سره وكتل



- د ملگرو ملتونو د پراختيايي پروگرام رئيس په دې ليدنه كي په افغانستان كي د اقتصادي پرمختكونو ستاينه وكړه او وايي، چي ملي عوايد پر ځاى مصرفېږي.
- ښاغلي وزير صاحب د ملگرو ملتونو له پراختيايي پروگرام سره په افغانستان كي د پراختيايي پروژو د پلي كولو په برخه كي د هر ډول اصولي همكاريو بشپړ ډاډ وركړ.
- اسلامي امارت د پراختيايي پروژو د پلي كېدو له اړخه ښه زمينه مساعده كړې ده ــ دا نړيوال سازمان دې په افغانستان كي اقتصادي پروژې برابري او پلي كړي.


د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند په افغانستان كي د ملگرو ملتونو د پراختيايي پروگرام (UNDP) له رئيس ستيفن روډريگېس سره وكتل. په پيل كي د ملگرو ملتونو د پراختيايي پروگرام مسؤل، په افغانستان كي د رامنځته سوو اقتصادي پرمختكونو ستاينه وكړه او زياته ئې كړه، چي اوسمهال په افغانستان كي مالي او بانكي سكټور با ثباته دئ، سوداگرو او پانگوالو ته اړين فرصتونه برابر سوي، د اصنافو لپاره له وركړل سويو مالياتي معافيتونو او تخفيفونو سره كوچني كاروبارونه غوړېدلي دي او په ملي كچه مهمي پراختيايي پروژې د پلي كېدو په حال كي دي، چي دا چاري پر دې څرگند دلالت كوي، چي ملي عوايد پر ځاى مصرفېږي. د ملگرو ملتونو د پراختيايي پروگرام مشر ژمنه وكړه، چي له ماليې وزارت سره به د خپلو فعاليتونو د لا ودې په موخه، همغږۍ لا زياته كړي؛ تر څو په گډه سره په افغانستان كي گټوري اقتصادي پروژې برابري او پلي كړي. د ماليې وزير په افغانستان كي د (UNDP) د فعاليتونو له امله د مننې ترڅنگ، غوښتنه وكړه، چي ياده اداره دې په افغانستان له رامنځته سوو فرصتونو څخه په گټې اخيستني سره ستري پراختيايي پروژې پيل كړي. د ماليې وزير همدا راز د ملگرو ملتونو له پراختيايي پروگرام سره په افغانستان كي د پراختيايي پروژو د پلي كولو په برخه كي د هر ډول اصولي همكاريو بشپړ ډاډ وركړ.

# د هيواد په گمركونو كي د ميليونونو افغانيو په ارزښت د گمركي تأسيساتو او تجهيزاتو د رغوني چاري رواني دي



د ماليې وزارت له لوري د هيواد په گمركونو كي سوداگرو ته د اسانتياوو رامنځته كولو او په هيواد كي د سوداگرۍ د لا ودې په موخه اړين اقدامات ترسره سوي دي او هڅه سوې ده، چي په دې برخه كي ټولو سته ستونزو ته پر خپل وخت رسېدنه وسي. د همدې چارو په لړ كي د هيواد په گمركونو كي د گمركي تأسيساتو جوړول او د تجهيزاتو برابرول هم شامل دي، چي د افغانستان اسلامي امارت له بيا حاكميت څخه راوروسته، په دې برخه كي د پام وړ كارونه ترسره سوي او مالي امكاناتو ته په كتو په ټولو گمركونو كي لويي او كوچنۍ پروژې پلي سوي دي او يا هم د پلي كېدو په حال دي.


پاته برخه په دوهم مخ كي


د ولايتي مستوفيتونو ٣٣ تنو آمرينو ته د «مسلكي كولو» تر سرليک لاندي جوړ سوى ښوونيز پروگرام پاى ته ورسېد


م ٢




د بلخ په گمرک كي د موټرونو د تمځاى جوړولو چاري (٣٥) سلنه پر مخ تللي دي


م ٢

د گمركونو لوى رياست اداري ناسته وسوه


م ٢





د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست د دغه وزارت له كاركوونكو څخه د عقيدتي درسونو ازموينه واخيسته


م ٢




رعايت اصول تداركات سبز در مراحل تداركاتى پروژه ها


م ٣





د افغانستان او ازبكستان پر پوله نړيوال سوداگريز مركز پرانيستل سو


م ٤

شتمني SHTAMANI
اوونیزه




# د ولایتي مستوفیتونو ۳۳ تنو آمرینو ته د «مسلکي کولو» تر سرلیک لاندې جوړ سوی روزنیز پروگرام پای ته ورسېد

د مالیې وزارت د بشري سرچینو ریاست د عوایدو لوی ریاست سره په همغږۍ د ولایتي مستوفیتونو (۳۳) آمرینو ته د "مسلکي کولو" تر عنوان لاندې د جوړ سوي روزنیز پروگرام د پای غونډه د گمرکونو او عوایدو په ملي اکاډمۍ کي جوړه سوه.

په دغه غونډه کي د مالیې وزارت د عوایدو لوی رئیس حافظ شاه حسین حسیني، د بشري سرچینو رئیس مولوي احمدشاه شاکر، د ولایتي عوایدو د انسجام او پراختیا رئیس مولوي عبدالمجید نجیب الله، یو شمېر مسئولینو او د مستوفیتونو آمرینو گډون کړی وو.

د بشري سرچینو رئیس وویل، چي د مالیې وزارت اړوندو ریاستونو د کارکوونکو د وړتیا لوړولو په برخه کي خپلي هڅي جاري ساتلي او په دې برخه کي ئې بېلابېل گټور روزنیز پروگرامونه




جوړ کړي دي، نو کارکوونکي هم باید پوره کوښښ وکړي؛ تر څو له دې فرصتونو څخه گټه پورته کړي، خپل ظرفیتونه لوړ کړي او سپارل سوي مسئولیتونه په ښه ډول پرمخ یوسي.

ښاغلي شاکر یادونه وکړه، چي په نږدې راتلونکي کي به د فکري او عقیدتي روزني بهیر هم پیل کړي.

ورپسې د عوایدو لوی رئیس وویل، چي د مستوفیتونو کارکوونکي تل له ولس سره په اړیکه کي وي، نو اړینه ده، چي دوی له خلکو سره په نېک چلند، ایمانداري او ریښتینولي سره مخته ولاړ سي او د ولس او حکومت ترمنځ د باور ښه فضا رامنځته کړي.

د ولایتي عوایدو د انسجام او پراختیا رئیس هم په خپلو خبرو کي د ظرفیت لوړوني پروگرامونه مهم وبلل او له گډونوالو ئې وغوښتل، چي خپل مسئولیتونه په ښه ډول مخته یوسي.

په پای کي د دغه روزنیز پروگرام گډونوالو ته تصدیق پاڼي ورکول سوې.

د یادولو وړ ده، چي په دغه (۱۵) ورځني روزنیز پروگرام کي گډونوالو ته پر عایداتو د مالیاتو قانون، د عوایدو د طرزالعملونو، بررسۍ او سیگتاس سیستم په تړاو روزنه ورکول سوه.

## د بلخ په گمرک کي د موټرونو د تمځای جوړولو چاري (۳۵) سلنه پر مخ تللي دي

د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست له لوري د څه باندې (۴۹) میلیونه افغانیو په ارزښت د بلخ په گمرک کي د موټرونو له پاره د تمځای جوړولو پروژه پیل سوې ده، چي رغنیزي چارې ئې په چټکۍ سره رواني دي او تر دې مهاله ئې (۳۵) سلنه پرمختگ کړی دئ.

د موټرونو پر یاد تمځای باندي په اساسي ډول کانکرېټ او جغل اچونه ترسره کېږي، چي ټولي اړیني اسانتیاوي به ولري او په جوړېدو سره به ئې موټر چلوونکو او د گمرک کارکوونکو ته په اړوندو برخه کي گټني اسانتیاوي برابري سي.



## د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د دغه وزارت له کارکوونکو څخه د عقیدتي درسونو ازموینه واخیسته




د افغانستان اسلامي امارت د امربالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت، د دعوت او ارشاد د چارو د انسجام لوی ریاست د حکم پر بنسټ؛ د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست د دغه وزارت له کارکوونکو څخه د عقایدو او طهارت په برخو کي ازموینه واخیسته.

په دغي تحریري ازموینه کي، چي د مالیې وزارت په جومات کي واخیستل سوه، د وزارت د مرکزي ریاستونو ټولو کارکوونکو گډون کړی وو.

د ازموینې موخه د اوامرو اطاعت، دیني چارو ته د کارکوونکو هڅول او د الهي قوانینو پلي کول ول؛ ترڅو په فکري او عقیدتي بډاینې سره د پردیو د کلتوري یرغل مخه ونیول سي.

د دعوت او ارشاد ریاست مسئولینو، چي د ازموینې له بهیر څخه ئې څارنه کوله، له کارکوونکو څخه ئې د جماعت لمانځه، عقیدتي او دیني درسونو ته د حاضرېدو او له اسلامي شریعت سره سم د خپل سیرت او صورت جوړولو له امله مننه وکړه او زیاته ئې کړه، چي د دغه آزموینې پایلي به ډېر ژر اعلان سي.

د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو د لویو ریاستونو او همدارنگه د وزارت له خدماتي کارکوونکو څخه به په راتلونکې اونۍ کي ازموینه واخیستل سي.

## د نیمروز گمرک کار کوونکو ته د گمرکي چارو په اړه روزنیز پروگرام پیل سو

د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د (۱۴۰۳هـ.ل) کال له تدریسي پلان سره سم د ساحوي روزنیزو پروگرامونو په ترڅ کي د نیمروز ولایت د گمرک کارکوونکو ته (۱۵) ورځنی روزنیز پروگرام پیل سو.

په دغه روزنیز پروگرام کي کارکوونکو ته د گمرکونو د قانون، گمرکي کړنلارو، گمرکي بیې



ټاکنې، تعرفې او گمرکي اظهارلیکونو د ډکولو په اړه د یادې اکاډمۍ د مجربو ښوونکو له لوري په عملي او نظري ډول روزنه ورکول کېږي.

له دغه روزنیز پروگرام سره به په یادو گمرکي برخو کي د کار کوونکو کاري ظرفیتونه لوړ سي او په اړوندو چارو کي به د ستونزو د حل په برخه کي گټوري پایلي ولري.

**د پاته برخي دوام: د گمرکي تأسیساتو او تجهیزاتو د رغوني چاري رواني دي**

د (۱۴۰۲هـ.ل) کال له پیل څخه بیا تر اوسه پوري د هیواد په گمرکونو کي بېلا بېلي رغنیزي پروژې پلي سوي او یو شمېر ئې د پلي کېدو په حال کي دي، چي له دې شمېر پروژو څخه د ابو نصر فراهي په گمرک کي څلور پروژې د (۶۵،۵) میلیونه افغانیو په ارزښت، د هرات او اسلام کلا په گمرکونو کي څلور پروژې د (۲۳۱،۸) میلیونه افغانیو په ارزښت، د نیمروز په گمرک کي درې پروژې د (۳۵،۷) میلیونه افغانیو په ارزښت، د کندهار او سپین بولدک په گمرکونو کي درې پروژې د (۵۹،۸) میلیونه افغانیو په ارزښت، د پکتیا او پکتیکا په گمرکونو کي (۷) پروژې د (۸۵،۳) میلیونه افغانیو په ارزښت، د خوست ولایت په گمرک کي درې پروژې د (۱۳۶،۸) میلیونه افغانیو په ارزښت، د تورخم په گمرک کي دوې پروژې د (۱۳،۶) میلیونه افغانیو په ارزښت، د ننگرهار په گمرک کي دوې پروژې د (۷۰،۲) میلیونه افغانیو په ارزښت، د حیرتانو په گمرک کي دوې پروژې د (۵۳،۷) میلیونه افغانیو په ارزښت، د آقینې په گمرک کي دوې پروژې د (۷٤،٦) میلیونه افغانیو په ارزښت، د تخار په گمرک کي یوه پروژه د (۲،۱) میلیون افغانیو په ارزښت او د کابل گمرک او کابل نړیوال هوایي ډگر په گمرکونو کي پنځه پروژې د (۱۸٦،۸) میلیونه افغانیو په ارزښت پلي او د پلي کېدو په حال کي دي.

د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت د هیواد د گمرکي چارو برېښنایي کولو ته هم ژمن دئ او په دې برخه کي ئې د برېښنایي سکېنرونو د نصبولو سربېره د عصري کولو ځیني نوري گټوري پروژې هم پلي کړي دي.

## د بلخ په محصولي گمرک کي یوه عراده د اور وژني موټر گټي اخیستني ته وسپارل سو




د بلخ ولایت په محصولي گمرک کي د اور وژني یوه عراده موټر، چي پخوا غیر فعال او له کاره لوېدلی وو؛ ترمیم او د یاد گمرک د رئیس مولوي محمد عبدالله بلال له لوري په رسمي ډول گټي اخیستني ته وسپارل سو.

د بلخ ولایت د گمرک رئیس په دې گمرک کي د اور وژني موټر فعالول اړین یاد کړل او د اور وژني برخي مسئولینو ته ئې سپارښتنه وکړه، چي له دې موټر څخه په تخصصي ډول گټه واخلي.

د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت تل هڅه کوي؛ تر څو د هیواد گمرکونه په عصري او اړینو امکاناتو سمبال کړي او په دې برخه کي ئې د بېلابېلو گمرکونو لپاره اړیني اسانتیاوي او امکانات برابر کړي دي.

## د گمرکونو لوی ریاست اداري ناسته وسوه



د گمرکونو لوی ریاست د روان کال (۱۱مه) اداري ناسته د گمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید په مشرۍ د یاد ریاست په مقام کي وسوه، چي د گمرکونو لوی ریاست تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، رئیسانو او یو شمېر آمرینو هم گډون پکښي کړی وو.

په دغه ناسته کي د هیواد په گمرکونو کي د وارداتي، صادراتي او ټرانزیټي توکو په برخو کي د سوداگرو او صنعتکارانو پر سته ستونزو او حللارو، د گمرکونو لوی ریاست د ورځنیو چارو پر لا ښه والي، په هیواد کي د سوداگرۍ د لا ودي په موخه په گمرکونو کي د اسانتیاوو په رامنځته کولو او د یو شمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث او خبري وسوې او په اړه ئې لازمي پرېکړي وسوې.

## د اسلام کلا په سرحدي گمرک کي لسگونه کیلو گرامه د قیلون تنباکو نیول سوي

د اسلام کلا سرحدي گمرک د تشریح برخي کارکوونکو په یوه وارېداتي محموله کي د (۸۴) کیلو گرامه ځای پر ځای سویو توتون (د قیلون تنباکو) او یوه زیاته کچه تر وخت تېر انساني درملو د را وارېدېدو مخه نیولې ده.

په دغه پېښه کي تورن کسان او نیول سوي توکي اړوندو پلټونکو ادارو ته سپارل سوي او پېښه ئې څېړل کېږي.

د یادوني وړ ده، چي اوس مهال د هیواد په ټولو گمرکونو کي له قاچاقي او ممنوعه توکو څخه په کلکه څارنه کېږي او هیچا ته اجازه نه ورکول کېږي، چي غیري قانوني د توکو لېږد را لېږد وکړي.

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# رعایت اصول تدارکات سبز در مراحل تدارکاتی پروژه ها

عبدالبصیر عمرشاه خیل
محقق دکتورای اقتصاد و تجارت بین الملل

ادامه شماره ١١٣ هفته نامه

**کاهش مصرف آب نیز یکی از مولفه های ضروری تدارکات سبز است که میتوان از طریق رعایت نکات زیر به آن دست یافت:**

١. انتخاب تجهیزات و لوازم بهینه.
٢. استفاده از فناوری‌های بازیافت آب.
٣. بهینه‌سازی فرآیندهای تولید.
٤. آبیاری هوشمند و کم‌مصرف.
٥. کاهش هدررفت آب.
٦. تدوین و اجرای سیاست‌های صرفه‌جویی در مصرف آب.
٧. استفاده از مواد و محصولات کم‌مصرف آب.
٨. اندازه‌گیری و نظارت مصرف آب.
٩. استفاده از آب‌های غیرقابل نوش.

پالیسی‌سازی برای تدارکات سبز به معنای ایجاد چارچوب‌ها و دستورالعمل‌های است که هدف آن‌ها ادغام ملاحظات زیست‌محیطی و پایداری در فرآیندهای خرید و تأمین کالا و خدمات است. این سیاست‌ها به سازمان‌ها کمک می‌کنند تا با کاهش اثرات منفی زیست‌محیطی، مصرف منابع را بهینه کنند و به اهداف توسعه پایدار دست یابند. قانون تدارکات افغانستان مصوب سال ١٣٨٥ خورشیدی در ماده نهم خود بر اتخاذ تدابیر لازم جهت حفظ محیط زیست در مراحل تدارکات و تطبیق قرارداد ها حکم میکند. (قانون تدارکات افغانستان, ١٣٨٥) همچنان طرز العمل تدارکات مدون سال ١٣٩٥ خورشیدی در حکم شماره ٦ خویش بر حفظ محیط زیست از طرف اداره و قراردادی تاکید میکند. (طرز العمل تدارکات, ١٣٩٥)



پلان‌گذاری برای تدارکات سبز به معنای ایجاد یک نقشه راه جامع است که به سازمان کمک می‌کند تا به اهداف پایداری زیست‌محیطی دست یابد. این فرآیند شامل تعیین اهداف، ایجاد استراتیژی‌ها و تعریف اقدامات عملی برای بهبود عملکرد زیست‌محیطی در تمام مراحل تدارکات است. اسناد داوطلبی بر اساس تدارکات سبز شامل معیارها و شرایطی است که تأمین‌کنندگان باید برای شرکت در فرآیند مناقصه یا داوطلبی رعایت کنند. این اسناد باید به‌گونه‌ای طراحی شوند که تأمین‌کنندگان را به ارائه محصولات و خدمات سازگار با محیط‌زیست تشویق کنند. توجه به تدارکات سبز در فرآیند ارزیابی آفرها (پیشنهادات) می‌تواند تأثیرات مثبت زیادی بر محیط زیست و عملکرد سازمان‌ها داشته باشد.

**نتیجه گیری:**

تدارکات سبز به فرآیند خرید و تأمین کالاها و خدمات با توجه به معیارهای زیست‌محیطی و پایداری اشاره دارد. این مفهوم به دنبال کاهش تأثیرات منفی زیست‌محیطی در تمامی مراحل چرخه عمر محصولات و خدمات از جمله تولید، حمل و نقل، استفاده و دور انداختن آنهاست. تدارکات سبز کمک می‌کند تا مصرف منابع طبیعی کاهش یابد و آلودگی‌های زیست‌محیطی کاهش پیدا کند، که به حفظ منابع طبیعی و کاهش تغییرات اقلیمی کمک می‌کند. با انتخاب محصولات و خدمات با مصرف انرژی و منابع کمتر، سازمان‌ها می‌توانند هزینه‌های مربوط به انرژی، پسماند و دیگر منابع را کاهش دهند. سازمان‌هایی که به تدارکات سبز پایبند هستند، می‌توانند تصویر مثبتی از خود به عنوان شرکت‌های مسئول اجتماعی و محیط‌زیستی ایجاد کنند که می‌تواند به جذب مشتریان و تقویت برند کمک کند. مصرف‌کنندگان به طور فزاینده‌ای به مسائل زیست‌محیطی توجه دارند و تمایل به خرید محصولات سبز و پایدار دارند. پیاده‌سازی تدارکات سبز می‌تواند به برآورده کردن این تقاضا کمک کند. پیاده‌سازی شیوه‌های تدارکات سبز می‌تواند به توسعه و پذیرش تکنالوژی‌های جدید و نوآورانه که به کاهش تأثیرات زیست‌محیطی کمک می‌کنند، منجر شود و رقابت‌پذیری را افزایش دهد. تدارکات سبز بخشی از مسئولیت اجتماعی شرکت‌ها است و به سازمان‌ها کمک می‌کند تا به اهداف پایداری و توسعه پایدار دست یابند. در مجموع، تدارکات سبز به سازمان‌ها کمک می‌کند تا نه تنها اثرات زیست‌محیطی خود را کاهش دهند بلکه عملکرد اقتصادی و اجتماعی خود را نیز بهبود بخشند.

**منابع:**

قانون تدارکات افغانستان. (١٣٨٥). کابل: اداره تدارکات ملی.
طرز العمل تدارکات. (١٣٩٥). کابل: اداره تدارکات ملی.
Luxembourg: .(٢٠١٦) .Buying Green .European Commision


# اعلانات داوطلبی

### د داوطلبی خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرايطو برابر تولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چې (د ماليې وزارت د جنراتورونو، کرنونو او وسايطو د فورکلفتونو ترميم او د گمرکي تجهيزاتو ساتنه او مراقبت) په پروژه کې چې تشخيصيه نمبر ئې (٧٤٨-G/١٤٠٣/MOF) دئ او د داخلي پرانيستي داوطلبی په بنه ترسره کېږي، برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼې له شرايطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم د لاندي ادرس څخه ترلاسه کړي.
د اړيکو شمېرې: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦
تر داوطلبی وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د (سنبلي/ ٣١ / ١٤٠٣) د سهار ١١:٠٠ بجې.
د آفرگشايي ټاکلې نېټه: د (ميزان/ ٠٨/ ١٤٠٣) د سهار ١٠:٠٠ بجې.
د آفر تضمين: دري سوه او اته څلويښت زره (٣٤٨٠٠٠) افغاني
ځای: د ا.ا.ا د چارو اداري لوی رياست، د ملي تدارکاتو اداري رسمي ويب سايټ.
په ځنډ رسېدلي او انټرنيتي افرونه د منلو وړ نه دي.

### اعلان مزایده

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه یک باب دوکان نمبر ٨٠ به مساحت ٥,٤١٥ متر مربع واقع مندوی ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول را به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ٢٢٠٠٠ ) افغانی برای مدت (١) سال به شکل آفر سربسته به اعلان مزایده می سپارد.
کوردينات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١٧٧٥٦ ٣٤,٥١٧١
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را بالاتر از مبلغ فوق داشته باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ ١٣سنبله ١٤٠٣ الی ١٩سنبله ١٤٠٣ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس: سینما پامیر تعمیر ١٤منزله، منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.
شماره تماس: -٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧-٠٢٠٢٩٢٤٦٢٤
مجلس مزایده تاریخ ٢٠ سنبله ١٤٠٣ به ساعت (٩:٠٠) قبل از ظهر برگزار میگردد.

### داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژهء( اعمار الماری های آرشیف، ترمیم تعمیرات اداری و ترمیم هنگر های گمرك میدان هوایی کابل) دارای نمبر تشخیصیه ٨٢٠-W/ /١٤٠٣/MOF که به روش باز صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از داوطلبی به تاریخ: ٢٦/ سنبله/١٤٠٣ ساعت ٢:٠٠ بعد از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ٠٤/ میزان/١٤٠٣ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ١٢٠,٠٠٠ (یکصدو بیست هزار) افغانی میباشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ٠٢٠٢٩٢٤٠٤٦
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

### د مزايدې خبرتيا

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی رياست، غواړي، چې د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحيې اړوند د مدينه مارکېټ (٣) بابه دوکانونه په جلاجلا ډول د يو کال لپاره د مزايدې له لارې اعلان ته وړاندي کړي.
١- د مدينه مارکېټ اړوند، يو باب ٩ نمبر دوکان، چې٨,٦٤ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئې (٥٥٠٠٠) افغانی ده.
٢- د مدينه مارکېټ اړوند، يو باب ٥ نمبر دوکان، چې ٩ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئې (٤٥١٠٠) افغانی ده.
٣. د مدينه مارکېټ اړوند، يو باب ٣٣ نمبر دوکان، چې ٨,٧٤ متره مربع مساحت لري او مياشتنۍ ابتدايي کرايه ئې (١٨٠٠٠) افغانی ده.
کوردينات(جی.پی.اس نمبر) ٦٩,١٧٧٢٤- ٣٤,٥١٧٤١
هغه حقيقي او حکمي اشخاص، چې غواړي پورتني ذکر سوي دوکانونه په کرايه ونيسي کولای سي، چې خپل غوښتنليکونه د (١٤٠٣ کال سنبلې له ١٢مې تر ١٨ مې پورې) د دولتي املاکو لوی رياست ته تسليم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.
د اړيکو شمېرې: ٠٢٠٢٩٢٤٦٠٧- ٠٢٠٢٩٢٤٦٢٤
آدرس: د سينما پامير (١۴) پوړيزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مديريت.
د داوطلبی مجلس: د ( سنبله /١٤٠٣/١٩) نېټه، د سهار ٠٩:٠٠ بجې ترسره کېږي.

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از فقره (٢) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، پروژه جغل اندازی پارکینگ گمرك ننگرهار دارای نمبر قرارداد ٠٤٦-NCB/W/١٤٠٣/MOF را با شرکت محترم ساختمانی و خدمات لوژستیکی اکمل احمدزی دارنده جواز نمبر٦٧٦١٨ به قیمت مجموعی مبلغ ٨،٥٤٩،٩٦٢ ( هشت میلیون و پنجصدو چهل و نه هزار و نهصدو شصت و دو) افغانی عقد قرارداد نماید.
اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی ٧ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات - کابل ارائه نماید.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.
آدرس : وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان –ریاست تدارکات،آمریت تدارکات- مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

شتمني
SHTAMANI
اوونيزه

د امتياز خښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبسايټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# Minister of Finance Meets with Resident Representative of UNDP for Afghanistan, Pledge to 'foster Cooperation'

Minister of Finance Alhaj Mullah Muhammad Naser Akhund has met with the resident representative of the United Nations Development Program (UNDP) in Afghanistan, Stephen Rodrigues. At the beginning, the Directore of UNDP praised the economic developments in Afghanistan and added that currently the financial and banking sector in Afghanistan is stable, businessmen and investors have been provided with the necessary opportunities. "Small businesses have flourished with tax exemptions and provision discounts, and vital development projects are being implemented at nationwide, which clearly indicates that national revenues have been spent on appropriate places", appreciated Mr. Stephen. The resident representative of UNDP promised to boost coordination with the MoF in order to increase its activities. Additionally, to provide and implement fecund economic projects in Afghanistan together. Besides thanking UNDP for its activities in Afghanistan, Hon. Mullah Naser Akhund requested UNDP to take advantage of the opportunities provided in Afghanistan to launch major development projects. Notably, Hon. Minister also assured fully cooperation with the UNDP in the implementation of development projects in Afghanistan.

> Stephen Rodriques appreciated economic developments and implementation of vital development projects. "Businessmen and investors have been provided with the necessary opportunities. Small businesses have flourished with tax exemptions and provision discounts, which clearly indicate that national revenues have been spent on appropriate places", added Mr. Stephen. Hon. Minister thanked UNDP for its activities in Afghanistan and requested for more development projects.

# Process of Customs Facilities, Equipment Worth Millions Afs Continues as Officials Vow for Accomplishment

MoF has taken necessary measures to provide facilities for traders at numerous customs and for the further development of business in Afghanistan, and efforts have been made to address all the obstacles in this arena punctually.

In the series of these affairs, the construction of customs facilities/ building and the provision of equipment at the customs of Afghanistan are also included. MoF affirms that large and small useful projects have been implemented or are being implemented at all customs after the re-establishment of IEA.

Since 1402FY, various construction projects have been implemented at numerous customs and some of them are being implemented as follows:

| No | Customs | Projects | Costs (mln Afs) |
|---|---|---|---|
| 1. | Abu Nasr Farahi | 4 | 65.5 |
| 2. | Herat and Islam Qala | 4 | 231.8 |
| 3. | Nimroz | 3 | 35,7 |
| 4. | Kandahar and Spin Boldak | 3 | 59.8 |
| 5. | Paktia and Paktika | 7 | 85.3 |
| 6. | Khost | 3 | 136.8 |
| 7. | Torkham | 2 | 13,6 |
| 8. | Nangarhar | 2 | 70.2 |
| 9. | Hairatan | 2 | 53.7 |
| 10. | Aqina | 2 | 74.6 |
| 11. | Takhar | 1 | 2.1 |
| 12. | Kabul and Kabul International Airport | 5 | 186.8 |

Noticeably, MoF is also committed for electronicizing of the customs affairs and in this regard, in addition to the installation of e-scanners, it has also implemented some other advantageous and applicable modernization projects.




# د افغانستان او ازبکستان پر پوله نړيوال سوداګريز مرکز پرانيستل سو




د اکيپريس ـ AKIpress په نوم قيرغيزي رسنۍ د افغانستان او ازبکستان د سوداګريز پرورښت په اړه ريپورټ خپور کړی دئ. په دې ريپورټ کي راغلي دي، چي د ازبکستان او افغانستان پر پوله د سورخان دريا/ سُرخاندريا حوزې په ترمِز اولسوالۍ کي د خپلواکي سوداګرۍ سيمي په اساس يو مرکز پرانيستل سو، چي د «ترمِز نړيوال سوداګريز مرکز» په نوم مسمی دئ. د ياد سوداګريز مرکز د پرانيستني په رسمي مراسمو کي د ازبکستان، افغانستان، اذربايجان، قزاقستان او قيرغيزستان مسؤلانو او هم لويو صنعتکارانو، متشبثينو، کارګرانو او ځوانانو برخه اخيستې وه. ريپورټ زياتوي، چي ازبکستان په دې وروستيو کلونو کي د خپل دولت د مشر په نوښت د نړۍ له هيوادونو سره په ټولنيزو، اقتصادي، فرهنګي، سوداګريزو او پانګوني په برخو کي همکارۍ ته پراختيا ورکړې ده او وايي په دې لړۍ «ګاونډی افغانستان هم د سورخان دريا په سيمه کي يو له نيږدې همکارانو څخه ګڼل کيږي.» د دواړو ملکونو د اقتصادي اړيکو په باب ليکي:

"ازبکستان له افغان سوداګرو سره د سوداګرۍ له پاره مناسب شرايط مساعد کړي دي؛ په ځانګړې توګه د افغان سوداګرو په ګډون له (۲۱۰) څخه زياتي تصدۍ يوازې په سورخان او اوسيس کي فعاليت کوي."

د پروسږ کال د سوداګريزې پرتلې په اړه وايي، چي له افغانستان سره د سيمي بهرنۍ سوداګرۍ شاوخوا (۵۸) ميليونه ډالره وه، چي د (۲۰۲۲)ز کال په پرتله درې برابره کيږي. ريپورټ وايي، چي د خپلواکي سوداګرۍ دا سيمه، چي په منځنۍ اسيا کي بديل نه لري، په (۳۶) هيکتاره مځکه/ ځمکه کي جوړيږي. د (۷۰) ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت دغه پروژه به د افغانستان، پاکستان او نورو ملکونو تر منځ د سوداګرو له خوا د توليد سوو صنعتي او استهلاکي/ مصرفي توکو د سوداګرۍ او صادراتو په برخه کي اړينه وي. متخصصانو اکيپريس ته دا خبره واضح کړې ده، چي وايي په کال کي به (۱,۵) ميليون خلک له دې مجتمع/ کمپليکس څخه ليدنه وکړي، او د کلني خرڅلاو حجم به ئې يو بيليون او دوه سوه ميليونه (۱,۲۰۰,۰۰۰,۰۰۰) ډالرو ته ورسيږي.

## د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتيا لرئ او د کومي ستونزې حل او يا شکايت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړيکه ونيسئ!
اړيکه: ۲۲۱

## رياست عمومی ګمرکات وزارت ماليه همېشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نياز داريد و يا ميخواهيد مشکل تان حل و شکايت تانرا به سمع ما برسانيد، ميتوانيد به شماره ذيل با ما در تماس شويد!
تماس: ۲۲۱



## د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت ستاسو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کوي

هر هيوادوال، چي د ماليې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه يا شکايت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکايتونو اورېدلو له خپلواك آمريت سره ئې په حضوري بڼه او يا د لاندي ادرسونو له لاري شريك کړي.
ټليفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )
برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af

شتمني اوونيزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې بايد اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمي وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چي خپلې مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لاري موږ ته راواستوي.